نړیوال بانک
له بې وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

**خبری خپرونه**

| | |
|---|---|
| اړیکې:<br>نړیوال بانک په کابل کې: عبدالرووف ضیا ۷۰۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)<br>Azia@worldbank.org<br>نړیوال بانک په واشنګتن کې: اریك نورا ۴۵۸۴۷۳۵ (۲۰۲)<br>enora@worldbank.org | شمېره: SAR |

# نړیوال بانك د افغانستان په پراختیایي لګښتونو کې د زیات اغېزمنتوب هڅونه کوي

**واشنګتن (د جون دریمه، ۲۰۰۸)**: د نړیوال بانك او پیسو نړیوال وجهي صندوق د راپور له مخې د ترلاسه شویو مرستو په اغېزمنه لګولو کې د افغانستان د توان کمښت یو له هغه اساسي لاملونو څخه دی چې د هېواد د مهمو پراختیایي ننګونو د لېرې کېدو مخ نیوی کوي.

د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي پر بنسټ چې پنځه کلنه دوره ( له ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې) تر پوښښ لاندې راولي او د ۲۰۰۸ کال د اپرېل میاشتې په ۲۱مه نېټه د هېواد جمهور رییس جلالتمآب حامد کرزي او کابینې له خوا تصویب شوه، د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د سرچینو لوی زیاتوالی په پام کې نیول شوی چې ډېری یې د ډونرانو مرستې جوړوي.

*«په بنسټیزه توګه دا ستراتیژي په یو شمېر اړخونو کې افغانستان ته لاربنوونه کوي ترڅو خپلې مهمې پراختیایي ننګونې له منځه یوسي.»* دا خبره الاستیر مکیکني چې د زیانمنونکو او جګړه ځپلیو هېوادونو په چارو کې د **نړیوال بانك مشر دی** څرګنده کړه او زیاته یې کړه چې *« په داسې حال کې چې افغانستان کې لا زیاتو پانګو ته اړتیا لري، مونږ باید د مرستو تر کچې وړاندې خپل نظر واچوو او په دقیقه توګه د مرستو په لګښت او د هغو د اغېزمنې کارونې په هکله د دولت د توان اوچتولو ته پام واړوو ترڅو د لیدو وړ پراختیایي لاس ته راوړنې ولرو.*

نړیواله ټولنه اوس د افغانستان د بیا رغاونې په اووم کال کې واقع ده. دا مطلب ښاغلي مکیکني څرګند کړ او زیاته یې کړه چې *« مونږ باید د مرستو د برابرولو لارې تر بیا ځیر لاندې ونیسو او په دې توګه دولت وهڅول شي چې د افغانستان د خلکو د تمې وړ خدمتونه په ښه توګه وړاندې کړي.»*

د نړیوال بانك او پیسو نړیوال وجهي صندوق په ګډ مشورتي یادداښت کې چې د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ د شنني په هکله دی، یادونه شوې چې د لویو بنسټیزه پروژو د رښتونو لګښتونو زیاتوالی وخت غواړي او پوره تیاري ورته پکار دہ. په دې یاددښت کې وړاندیز شوی چې د لګښتونو او ادارو په چارو کې د دولت د ظرفیت پراختیا لپاره ګامونه واخستل شي لکه د عامه مالي چارو اداره، د تدارکاتو سیستمونه او د بودیجې د پروسو ښه توب. همدارنګه یادونه شوې چې د عامه اداري اصلاحات او تنظیم او د بهرنیو تخنیکي مرستو ښه همغږي له مهمو لمړیتوبونو څخه دي.

« د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژۍ په بنسټ د *پروګرامونو د درجې ټاکنه يوه ډېره ضروري موضوع ده.*» دا مطلب **ويليم بيرډ چې د نړيوال بانك د اقتصادي چارو سلاكار** دی ياد كړ او زياته يې كړه چې « *د پاليسيو اړوند او نورګامونه ډېر زيات دي او پكار ده چې پرېكړو، چارو د پلي كولو او څارنې لپاره هغه همغږې شي.*»

د ډونرانو تر منځ د همغږۍ نشتون ددې لامل شوی چې افغانستان ته يوه ننګونه را منځ راشي او د مرستو په دريو كې دوه برخې اوس هم د دولت له بوديجې څخه بهر لګول كيږي او نو ځكه د دولت له كنټرول څخه بهر دي. په ستراتيژۍ كې د لمړيتوبونو په ښې ټاكنې سره به ډونران وتوانيږي چې خپلې مرستې لا نورې هم د دولت له لمړيتوبونو سره همغږې كړي. همداراز دولت او نړيوال مرستندويان يې بايد دواړه هڅه وكړي چې ډاډ ترلاسه كړي چې د بهرنيو سرچينو زياتوالی ددې لامل نه ګرځي چې د كورنيو عوايدو زياتوالي ته چې د نړۍ په كچه په ټيټ حد كې واقع دي، هڅه ونشي. په حقيقت كې د كورنيو نا سوچه توليداتو (جي ډي پي) په ډله كې د عوايدو سلمه راټيټه شوې ده چې په ۲۰۰۶/۲۰۰۷ كال كې ۷,۵ په سلو كې وه او په ۲۰۰۷/۲۰۰۸ كال كې ۷ په سلو كې شوه. د پاليسيو د خپلواكۍ او په بهرنيو مرستو د اوږد مهاله ويسا څخه د ډډې كولو لپاره پكار ده چې د عوايدو د زياتولو لپاره همغږې او پرله پسې هڅې وشي. په خاصه توګه پكار به وي چې د سرچينو اداره او پاليسي ښه توب ومومي او د ماليانو بنسټ پراخ شي.

د افغانستان ملي پرمختيا ستراتيژي ځينې هغه انديښنې چې د نړيوال بانك او پيسو نړيوال صندوق په پخوانې يادډښت كې د افغانستان د ملي پرمختيا موقتې ستراتيژۍ په هكله په ۲۰۰۶ كال كې څرګندې شوې وې، له منځه وړې دي لكه د شننو د قوي بنسټ اړتيا ، خو په ځينې نورو ډګرونو كې تر اوسه هم ستونزې پاته دي. په عمومي توګه په ټولو سكټورونو كې لمړيتوبونه په يو شان نه دي ټاكل شوي او ټاكل شوي لمړيتوبونه په څرګنده توګه د بېوزلۍ له كمښت سره تړاو نلري. سر بېره پردې، د لګښتونو د پام وړ زيات والی او په ۲۰۰۷/۲۰۰۸ كال كې د عوايدو سست والی په دې مانا دي چې د اقتصادي ثبات لړ ليد د يو كال پخوا يانې د ۲۰۰۶ كال په پرتله نه دی ښه شوی. كه څه هم د عامه مالي چارو د اداري په ډګر كې پرمختګ شوی خو د عامه ادارو د اصلاحاتو په اړخ كې پرمختګ په نيمه كچه او د اداري فساد د مبارزې په لاره كې پرمختګ لږ دی.

په افغانستان كې د نړيوال بانك د چارو په هكله د لا زياتو معلوماتو لپاره لاندې انټرنتي پاڼه كتلای شی:
http://www.worldbank.org.af